عبدالوهاب شیرزوی ۲۰۱۷/۰۲/۰۶

# د بلوڅو تاريخي بهير ته لنډه کتنه

## دویمه او وروستۍ برخه

د پاکستان حکومت وايې چې دوښمانان د پاکستان د ورانولو پسې راخښستې ده او دا وخت چې هر څوک د پاکستان خواته د دوستي لاس راغزوي هغه د پاکستان ریښتني دوست ګڼل کیږي او پدې ډول پاکستان د کلات له الحاق څخه پرته په بل هیڅ خبره باندې د غور کولو له پاره تیار ندي.
سټرفل وويل : دا يو حقيقت دي چې خاران ، او لاس بيله د کلات حق دي خو کله کله دا حق د حقدار په لاس کې نه وي ، د سټرفل د بيان په ختميدو د کلات شورا اور واخيست ميربخش بزنجو وويل : مونږ د بل پلاس کې د خپل سرنوشت ورکولو ته تيار نه يو مونږ به نر او ښځې خپل سرونه قربان کړو خو غلامې ته به سر ټيټ نکړو.
پدې وخت کې يوځل بيا د کلات صدراعظم کراچی ته لاړ او د کلات د شورا د دواړو مجلسونو تصويبونه يې د ځانه سره واخيستل خو دا ځل بيا هم تش لاس راستون شوه نه يوازې دا چې تش لاس راستون شوه بلکې پر کلات باندې د پاکستان د يرغل نښې او نښاتې هم راڅرګندې شوي د کلات خان دي ستوخو پيښو ډير زړه تنګې کړ او دي ته اړ شوه چې د خپل دريځ کې څه بدلون راولي د « ۱۹۴۸ م » کال د فبروری په مياشت کې چې د پاکستان ګورنر جنرال جناح د سيوی ميلې ته د ګډون له پاره راغي نو د کلات خان ورسره وکتل او په پاکستان پورې د کلات د تړلو له پاره د لارې د هوارولو په کار کې ور څخه مرسته و غوښتله خو جناح ده ته وويل ( حکومت د کلات د الحاق له پاره يوه طرحه تياره کړيده ته هغه وګوره او ماته دی خپل اند ووايه ) خان اعظم چې دغه طرحه او مسوده وکتله نو ور معلومه شوه چې پاکستان په هيڅ ډول له خپلې خبرې ګرځيدو ته تيار ندي د کلات خان يو ځل بيا دا کشاله د کلات شورا ته وړاندې کړه ولسي جرګې خپله پخوانې فيصله تايد کړه خو مشرانو جرګې په خپل تصويب کې نرموالې راوست او له پاکستان له حکومت څخه يې د سلا مشورې له پاره درې مياشتې مهلت وغوښت پدې وخت کې د کلات خان د پاکستان مشرانو ته د خپل ورور آغا عبدالکريم په مشرې د بلوڅو د سردارنو يوه ۱۵ کسيزه هيت کراچې ته وليږه خو پاکستاني واکدارانو له دوی له کتنه څخه ډډه وکړه .
د « ۱۹۴۸ م» کال د مارچ په اتمه نيټه د پاکستان ګورنر جنرال جناح کلات ته يو مکتوب وليږه چې پدې مکتوب کې يې د کلات خان ته خبر ورکړی و چې ما په پاکستان پورې د کلات د الحاقه له پاره له څارنې او مراقبت څخه لاس واخيست او دا خبره مې لدې ورسته د بهرنيو چارو وزير ته وسپارله . لدغې مکتوب له مفهوم څخه هيڅ څوک نه پوهيدل چې د پاکستان واکدارنو پدې باب کومه نوی لاره غوره کړيده خو د همدې کال د مارچ په اولسمه نيټه نا څاپه د کراچې راديو اعلان وکړ چې ( مکران ، خاران او لاس بيلې ) خانانو په پاکستان پورې د خپل رسمې الحاق اعلان وکړ .
پدې خبرې سره د بلوڅو د زړونو پرهارونه نور هم تازه شول دا ځکه چې د بلوڅو پر ضد د پاکستان د حکومت يوه دسيسه و او د بل پلويې د کلات څخه يوه ځنډه د مکران په نوم بيله کړه مکران په دغه وخت کې يوه ولسوالې و چې شهزاده عبدالکريم يې حاکم وه . د کلات خان دي خبر ډير ورخطا کړ نو د پلوڅو د سردارنو له مشورې پرته يې په خپل سرپه پاکستان پورې د کلات د الحاق اعلان وکړ ، ددې اعلان په اوريدو سره بلوڅ نور هم و پاريدل او دغه اعلان تر اوسه پورې چاندې منلې د پلوڅو د مروجه قانون له مخې د کلات خان دا حق نه درلود چې پخپل سر د داسې لوې فيصلې پريکړه وکړي .
پدې ټوګه د کلات د خانې چارې « ای ،جي ، جي » ته وسپارل شوي دوي يوه اعلاميه صادره کړه او دکلات ټول پخواني تشکيلات يې لغوه اعلان کړل د کلات نيشل پارټې او شورا هم ړنګه شوه ، لوی ، لوی مامورين يې برطرفه کړل او ځينې د بلوڅ مشران لکه : مير بخش بزنجو ، مولانا محمدعمر ، مولانا عرض محمد ، ګل خان نصير او نوريې بنديان کړل بلوڅو دي پيښو ډير راوپارول او تر ټولو اول شهزاده عبدالکريم خان د کلات د خان ورور او ګلران پخوانې حاکم چې له زلميتوب څخه يو خون ګرم نشنليست د ۱۰۰ بلوڅوسردانو او ځوانانوسره يوځای د افغانستان سرحد « سرلټ » سيمې ته راغي او د نظر محمدخان کاريز ته يې واړول دغه خبر د برښنا په څير په ټوله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

علاقه کې خور شو ، په موده کې ۵۰۰۰ بلوڅ ځوانان په وسلو سمبال شول ،دې پيښې د پاکستان حکومت سخت ورخطا کړ نو په حيله او نيرنگ يې لاس پورې کړ تر څو عبدالکريم خان او ورسره ملګري يې په پيسو او غلطو وعدو وغولوي او بيرته کلات ته راستانه شي خو عبدالکريم خان درې مياشتې ورسته راستون شوه دکلات سيمې د ننوتو سره جوخت د خپل ملګرو په ګډون ونيول شوه او سمد لاسه قيدونه او جرمونه پرې وختل د ( ۱۹۵۲ / ۱۹۵۵ کالو کې د پاکستان حکومت پريکړې ،دسيسې د بلوڅو قوم پرضد يوه د بلې پسې عملي کيدله دغه چلواټو پر بلوڅو قوم ړنا ورځ توره شپه کړ او هره پيښه دبلې نه درنده او ځورونکې وه لدې کبله د بلوڅو پدې تنګه موقه کې د کلات خان په « ۱۹۵۸ م » کال د « ميرې کلا » د پاسه د خپلواکۍ بيرغ و رپاوه او بشپړه خپلواکۍ يې اعلان کړه پدې موقه کې د پاکستان پوځ د بلوڅو پربې دفاع قوم وروخوت او ناځاپه جګړه پيل شوه . بلوڅ قوم ډير بې رحمانه او د ټولو انساني کرامت څخه لېرې د مرميو تر سوزونکو وړانکو لاندې ونيول شوه ، پاکستان حکومت خپل ناروا يرغل يې پداسې غولونکې بڼه توجيح او معرفي کړ چې ګواکې دوي د ولس مصونيت او د امنيت چګړې ته راغلي دي او دا ددوي روا حق دي ، برعکس دا جګړه د يو داسې پرلپسې اشغال له پاره هلې ځلې وي .

دې ستر يرغل د بلوڅو د خپلواکي سينه وخيرله ، کريبان يې په اوښکو لوند شوه په زرهاو بې ګناه او بې دفاع سپين ږيري ، ګونډۍ ، يتمان ، ماشومان ، ځلميان د پاکستان د بټيو په پخو ښويو باروتو کې وسوزيدل او ددې ناروا يرغل د تنور سرو لمبو ته ګذار شول .

په پايله کې « ۹۰۰ » بلوڅ شاه ځلمي چې سردار هم پکې و شهيدان شول د پاکستان پوځ پر کوټ وروختل په سل ګونه تور سرې يې سر لوڅې کړي ان تر دې چې د خان اعظم او دده ميرمن او يو وړوکې زوی يې هم تيپان شول ، د کلات خان په زخمي ځان بندی لاهور ته وليږل شوه او پوځ پر بلوڅو کربلا جوړه کړه ، په زرګونه بلوڅان و نيول شول ، کورونه يې لوټ ، مالونه يې تالا او فصلونه يې په بمونو وسيځل شول . د پاکستان پوځ شل زره سر تيرې په عميلاتو بوخت څو کاله هلته پاتې شول خو ميرنې او غيرتې بلوڅ قوم چې د آزادی د لارې پتنګان و داسې ريکارټ يې ټينګ کړ چې مثال يې لږ ليدل کيږي .

بلوڅ مجاهد ميرنوروزخان چې بو ځل يې د ( ۱۹۲۶ / ۱۹۲۷ کې د خپلو مبارزو په سلسله کې افغانستان ته پناه وړې د ميرنو بلوڅو د لښکرو سره د جاله وان غرونو او تنګو درو ته يې مخه کړه او په پاکستان پوځ ، نظامی او اداری تاسيساتو ، سرکاری دفترونو ، تحصيل داريو ، جمه داران ، سرميران او منصبداران يې بې شميره ووژل او ځينې يې ژوندی ونښتول .

دا ځل پاکستان حکومت يو بل چل و چلاوه مير نوروز خان ته يې د مسلم ليک يو ليډر ورواستوه چې ستا د قوم مطالبات منظور دي او دا دي عهد او پيمان د قرآن پاک په حاشه کې ليکل شوی ، امضا شوی درواستول شوه راځه چې روغه جوړه سره وکړو .

مير نوروز خان سره د خپل زوی او نورشاه زلمي د قرآن پاک په احترام راکوز شول د راکوزيدو سره سم پاکستانيانو ونيول په همدې موقه کې پاکستان حکومت اوه تنه ميرنې بلوڅ چې د نوروززرګزی زوی مير بټې هم پکې شامل و په دار وخيژول او پخپله مير نوروزخان ته يې د عمر قيد سزا ورکړه چې ورسته په جيل کې مړ شوه .

بلوڅ رهبران لکه : نواب محمد اکبر بکټي ، مير غوث بزنجو ، ميرګل خان نصير ، حسين عنقا ، خيربخش ميرې ،عطاالله خان مينګل ،شهزاده عبدالکريم په عذابو ولړل سول پدې ډول د پيل څخه تر اوسه پورې د بلوڅو باتور قوم د پاکستان د حکومت لخوا په رنګارنګ دسيسو تورن کړي او په ګڼو برخوکې ورته پرابلمونه پيدا کوي پدې اړوند د خپل پليد سياست څخه ګټه پورته کوي پدې ترتيب سره د بلوڅو د طبعي زيرمو څخه چې د بلوڅ قوم پورې اړه لري ناروا ګټه اخلي او دخپل ميکاولستي سياست په چلولو سره بلوڅ قوم د ټولو مادی او معنوی شتمنيو څخه بې برخې کړي پدې ټوله موده کې بلوڅ قوم د خپلواکۍ غوښتونکې وه او دې خو سوال دا دي چې اوس ول امريکا ورسره همغږه شويده ؟ آيا په ريښتيا امريکا د مظلومو بلوڅو په فکر کې ده ؟ يا دا چې په سيمه کې نورې موخې لري ؟ د بوچستان په سيمه کې د امريکا د پام وړ مسله د ګوادر بندر دي ددې بندر د کار پيل د پاکستان د بوخې ولسمشر پرويز مشرف له لورې د چين په مرسته پيل شوه . امريکا ولې دې بندر ته ليوالتيا لري ؟ د ګوادر د بندر د جوړيدو ټول لګښت ۲۴۸ ميلون ډالره ده چې له دغې شميرې څخه ۱۹۸ ميلون ډالره د چين له لورې مرسته شويده او چينايي نظامي کار کوونکې هم ددغه بندر په چارو بوخت دي . د ګوادر بندر د دريو مهمو سيمو منځنې ختيځ ، سويلې اسيا او منځنې اسيا تر منځ پروت دی چې له کراچې څخه ۴۶۰ کيلو متره ،له ايران څخه ۷۲ کيلو متره او له هارموز له تنګې څخه ۴۰۰ کيلو متره واټن لري همدا راز دا بندر د هند سمندر او د عربو خليج د انرژي د ليږد لارې په توګه امريکا ته ځانګړې ارښت لري ، که دا لاره د چين تر کنترول لاندې راشي دا به د امريکا لپاره جدې ننګوني وزيږوي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هودا راز چین کوالاې شي ددغي بندر د لارې د سینګیانګ ایالات او د چین د لویدیځو سیمو څخه افریقا او ایران ته د تیلو د لیږد را لیږد د لارې په توګه ګټه پورته کړي او چینایي مالونه د همدې بندر د لارې نړۍ ته ولیږدوي .ددی بندر کارکونکي چینايي پوځیان دي چي د کار تر څنګ په سیمه کې د امریکا له فعالیتونو څخه هم څارنه کوي چي دی عمل د امریکا قهر راپارولي ام په هر بیه چي کیږی غواړي د چینایانو لاس ددغي سیمي څخه پرې کړي ، بله دا چي امریکا هیڅ کله نه غواړی چي په پاکستان کي دې د چین د نفوذ د پراختیا له پاره زمینه برابره شي نو ځکه دبوچستان د آزادی غوښتونکي دي کچیرې خپلواک بلوچستان رامنځ شي نو د بلوچستان سره به د لویدیځوهیوادو په ځانګړې توګه امریکا پراخي مرستي جاري شي د طبعي زیرمو څخه به يې د بلوچستان خلک ګټه پورته کړي پدې نړدو کي یو ځل بیا د بلوڅو د آزادي غوښتني نعرې راپورته شوي چي غواړي د خپل ټاټوبي وارسان په خپله خاوره کي شتون شي د بلوڅو پدې پاک او مقدس ارمان کي د نړۍ صلح غوښتونکي ولسونه ځانونه د بلوڅو د ننګیالي قوم سره همږغي لري او پدې پاک ارمان کي هغوي ته د لا بریلیتوب غوښتنه کوي .

## ماخذونه :


١ / لرغوني پښتانه قومونه قیام الین خادم
٢/ تاریخ بلو چستان میرګل خان نصیر بلوچ
٣/ د پښتني قبیلو شجرې او میني پوهنوال محمدعمر روند میاخیل
۴ / بیلابیل ویپ سایټونه





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ